Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# افغان

# او

# افغانستان

دوه یم چاپ

لیکوال

علامه عبدالحی حبیبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کتاب پېژندنه

د رسالې نوم : افغان او افغانستان

ليکونکی : علامه عبدالحی حبيبي

پښتو کوونکی : حبيب الله رفيع

خپرونکی : د ساپي پښتو څېړنو او پراختيا مرکز

کمپوز او ډيزاين : د کمپيوټر څانګه

د خپرېدو کال : ۱۳۷۶ / ۱۹۹۸

دوه يم چاپ : ۱۳۸۰-۲۰۰۱

د چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

د چاپ حق : خپرونکې اداري سره خوندي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

PROPERTY OF ACKU
11633

بسم الله الرحمن الرحيم

PROPERTY OF ARIC
Established 1989

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لوی خدای په نامه

افغــان او افغانســتان دوه تــاریخي او تــاریخ جوړوونکي نومونـه دي خو ځینـې مغـرض څېړونکـي او بې خبره لیکـوالان پـه خپلو لیکنو کـې د دې دوو کلمـو پـر تـاریخي قدامـت سترګې پټوي او دانــوم اېښودنې نوې، تازه او له وروستیو پېړیـو سره تړلـې بولي.

اروابناد علامـه عبدالحـی حبیبـي د افغــان او افغانستان د کلمو په هکله د ذهنونو د روښـانولـو او د تـاریخ د سمون په غـرض د افغـان او افغانسـتان پـه باب یوه مقاله ولیکله چې د افغان د نامـه یـو زراووه لس سوه کلن او د افغانستان د نامه اووه سوه کلن

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرغونتـــوب د تـــاريخي اســـنادو، شـــواهدو او لاسوندونو په رڼا کې رابښيي.

د ساپي پښتو څېړنو او پراختيامرکز لـه خپلـو لومړنيـو طبـاعتي امکانـاتو نـه پـه اسـتفادې سـره داکـوچنۍ خـو ګټـوره او علمـي مقالـه چـې د معنـوي ارزښت له مخې له پېړرو کتابونو سره برابري کولای شي د يوې ځانګړې رسالې په توګه په پښتو ژبـه ددوه يم ځل لـه پاره خپروي. ځو زمـوږ ځوان نسـل د خپل ملت او وطن په هکله علمي معلومات ترې تر لاسه کړي او په دې برخه کې د مغرضو يا پرديو او دښمنو ليکوالو پر غلطـو او ناسمو معلومـاتو ونـه غولېږي. موږ د خپل کار منظم آغاز په همداسې يوه وړه خو ډېره ګټوره رساله کوو او هيلـه لـرو چـې افغاني ځوانان يې په غورو لولي.

په مينه

(د ساپي پښتو څېړنو او پراختيا مرکز)

# بسم الله الرحمن الرحيم

د افغان کلمه چې اوس د افغانستان د ټولو خلکو ملي نوم دی او داسیا په زړه کې تر ټولو تاریخي، اقتصادي او اجتماعي شرایطو لاندې یونه بیلېدونکی واحد جوړکړی – داسې نوم دی چې لږ تر لږه یو زر اووه سوه (۱۷۰۰) کلن تاریخي لرغونتوب او ملي اصالت لري.

په افغانستان کې دننه او دباندې ځینې کسان فکر کوي چې دانومونه د احمدشاه ابدالي په لاس د افغاني دولت تر بیا جوړولو وروسته په اتلسمه پېړۍ کې رامینځ ته شوي او زموږ هغه هېوادوال چې له تاریخي پېښونه خبر نه دي تل له مانه پوښتي چې ایا دا نومونه لرغونی تاریخ لري کنه؟ نو ځکه په دې

لیکنه کې په ډېر لنډیز سره د خپل ملي تاریخ داموضوع درنو لوستونکو ته وړاندې کوم.

د افغان نوم ترکومه ځایه چې ماته څرګند دی په تاریخ کې اوږدې ریښې لري او په همدې سیمه کې دهلمند او سند د دوو لویو سیندونو تر مینځ په همدې نامه یوې ډلې وګړو ژوند کاوه چې تفصیل یې دادی:

شل کاله پخوا (اوس پنځه پنځوس کاله - مترجم) د ایران د شیراز په "نقش رستم" کې د شیکاګو د ختیځې موسسې د لرغونپوهانو یوې ډلې د هغه ځای په ډېر لیکونو کې د زردشت په کعبه کې په دوو پهلوي اشکاني (پارتي) او یوناني ژبو یو ډېر لیك وموند چې هغه د ساساني کورنۍ دوهم بادشاه لومړني شاه پورتر ۲۶۰ میلادي کال او د او دیسي په جګړه کې د روم د امپراتور والیرین

(c) ketabton.com: The Digital Library



(Valerian) تـر مـاتې او اسـارت وروسـته دلتـه د زردشت د کعبې د ديوال په ډبرو ليکلي دي.

څرنګه چې لومړی شاپور په ۲۷۳م کال مړشوی نو د دې ډبرليك د ليکلو نېټه د ۲۶۰ تر ۲۷۳ع کال پورې دديارلسو کلونو تر مينځ مينځ ټاکلای شو.

( د دې ډبـر ليـك نيمـګړې فارسـي ژبـاړه دې د لرغونپوهنې د رپوټونو د۴ ټوك په ۱۸۱ مخ کې چې په ۱۹۵۹ع کال په شيراز (ايران) کې خپـور شـوی، وکتـل شـي). د دې ډبـر ليـك پـه دوهـم بنـد کـې دپشـــکابور (pashkabur) د ښار نـــوم د کوشـــان خساتر (Kushan-khsatr) يعنې د کوشاني هېواد د وروستني ختيـځ سرحد پـه توګه يـاد شـوی دی چـې هغـه يـې د يونـاني لـه "کسـپاپوروس" د چينـي هيـون تسنګ له پو- لو- شا - پو- لو او د اسلامي دورې د مورخينو له پرشا پوراو پر شاور(پېښور) سره يو بللی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی. د همدي ډبر ليك په شپږمه برخه کې د شاه پور د واکمنۍ په مهمو کسانوکې د "وينده فرو ابګان رزمه ود" (۱) نوم ياد شوی دی چې د سپرنګ لونګ (Sprengling) په نامه يوه محقق لومړی ځل داډبر ليك ولوست او دامريکې په سامي مجله کې يې په ۱۹۴۰ کال يوه مقاله وليکله او دوهمه کلمه "ابګان" يې په قاطع ډول د افغان له اوسني پاچا دريم شاه پور له نامه سره چې له ۳۰۹ تر۳۷۹ ع کال پورې يې او يا کاله پاچاهي کړې د اپکان (Apkan) په بڼه يو صفت او لقب ياد شوی دی چې داکلمه هم کولای شو د "ابګان" د يادې شوې کلمې غوندې وګڼو چې د زړورتوب، رشد او نجابت د صفت او يا به هم د نژادي ترون په بنا راوړل شوې وي او همدا موضوع ده چې ځينې مورخين لکه سر او لف کيرو يې دساساني دربارپه مشرانو کې د درانيو او

يوسفزيو دشته والـي پـه فكـر كـړى دى (وګورئ: پټانان - انګليسي متن ۸۰ مخ). او موږ نوموړى نوم "وينده فرن افغان رزم بد" يعنې"د افغـان د جګړې سالار وينده فـرن" ويلاى شو چې ښايي يو افغـاني سلار وي. د فردوسي په شهنامه كې هم دوه ځله د "آوګان" نوم راغلى چې د فريدون د وخت لـه سپه سالارانو څخه وؤ:

سـپهدار چـون قـارن كـاوګان
سپه كش چو شيروي وچون آوګان

(شاهنامه، د مسكوچاپ، لومړى ټوك، ۱۱۰ مخ)

همدا د فريدون په داستان كې يو بل ځل وايي:

همـه ګرد ايـوان، دورويـه سـپاه
بزريـن عمـود و بـه زريـن كـلاه

سپهدار چون قارن کاوان
به پیش سپاه اندرون آوگان

(لومړی ټوك، ۱۱٦ مخ)

که څه هم چې د شاهنامې داستانونه تاریخي سندونه نه دي خو زیات پخواني حقیقتونه پکښې نغښتي دي. د نمونې په توګه په همدې بیتونو کې قارن یاد شوی چې د قارن کورنۍ د اشکانیانو ددورې یوه اشرافي کورنۍ وه او په (۴۵۰ع) کال کې دبین النهرین اشکاني واکمن کارنس (Carenes) نومېده (وګورئ: د مینارسکي د ویس ورامین مقاله، ۴۳۱ مخ، د تهران چاپ، ۱۹۵۸ع کال).

دا "او ګان" هم هماغه د ساساني عهد "ابګان" ته ورته دی خو په زړو روایتونو کې د فریدون سپه سالار ؤ چې هغه یې سمکنان د زوی آوه نومي پهلوان سره منسوباوه او الماني بوستي په خپل کتاب

"ایراني نومونه" کې وايي چې : "د اوه اصل او ستايي دی د مهربان او لاس نيوونکي په نامه" (د شاهنامې فرهنګك، ۱۲ مخ، د تهران چاپ ، ۱۹۴۱ع) خو په شاهنامه کې په خپله دا دوه کسان د کيخسرو دوخت اتلان (پهلوانان) دي چې له افراسياب سره دده په لويه جګړه کې داسې ياد شوي دي:

چو کيخسرو ان رزم ترکان بديد
که خورشيد ګشت از جهان ناپديد
سوی اوه و سمکنان کرد روی
که بودند شيران پر خاشجوی

(شاهنامه ۲۸۱مخ، ۵ ټوك)

په هر حال له دې يادونې څخه داسې څرګندېږي چې اوه - او ګان په لرغونو اريايي رواياتو او شاهنامو کې دود و او که د بوستي د وينا له مخې يې اصل او ستايي و بولو نو معنی به يې مهربان او

لاس نیوونکی وي چې داسې نومونه له لرغونو اتلانو سره وړ وو او که بیا وروسته د یوه قوم او یا ټولنې په معنی اوښتی وي لیرې نه ده.

که د ابګان، په اګان او اوګان کلمو ته په زړو روایاتو او د ساساني دورې په پاتې شونو کې د باور وړ اهمیت ورکړل شي لکه چې سپرنګ لنګ او اولف کیرو همدا نظر لري نو دعوه کولای شو چې دافغان نوم یا صفت د ابګان او اپه ګان په بڼه له دریمې عیسوي پېړۍ (صدۍ) څخه اخیستل کېده او بادشاهانو، اداره چیانو او واکمنانو پېژانده او داسند تر اوسه د دې نامه د لرغونتوب په باب د یادولو وړ زوړ سند دی چې د زړو روایتونو "اوګان" هم ورته دی.

دوهم زوړ سند چې د دی نامه په باب یې لرو دهند له تر لاسه شویو او پاتې شویو آثارو سره اړه

لري چې دا نوم د اوه ګانه (Avagana) په بڼه چې د ساساني دورې د ابګان او اپه ګان له بڼو سره ورته دی، په هندي آثارو کې په لاندې تفصیل مومو:

ورهامي هیرا (Varha-Mihira) هندي شاعر او نجومي دی چې د پنځمې عیسوي پېړۍ په پای کې د هند په راجین کې وزیږېد او د ۵,۵ ٤ شاوخوا یې ښه شهرت وموند، د ده مهم کتاب "پنچه سید هانتیکا" (Pance Siddhantika) نومېده چې دنجوم د علم د پنځو کتابونو لنډیز دۍ او دی د نجوم په باب یو منظوم کتاب هم لري چې پکې یې د ښکلو ډېرو. د هند د جغرافیې او نور د کار وړ موضوعاتو په باب هم ځبرې کړې او نوم یې پرې "بهریته سنهیته (Bhrita Sanhita) ایښې دي چې په ۱۱-۶۱ او ۱۶-۳۱ بیتونوکې یې دافغان نوم داوه ګانه په بڼه یاد شوی دی.لکه څرنګه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرانسوي عالم موسیو فوشه په خپل "تکسیلا ته د هند او باختر زړه لار"نومي کتاب (په ۱۹۴۷ کال کې د پاریس چاپ، ۲۳۵-۲۵۲ مخونه، ۱۷ نوټ) کې شرح کړې دی: دا د شپږمې پېړۍ په مینځ – مینځ کې د افغان ډېر زوړ یاد دی، ځکه هندي منجم "ورهامیهیرا" په ۵۸۷ع کال مړشوی او وایي چې د ده نجومي معلومات یوناني سرچینه درلوده او د ځمکې په کرویتوب (ګردوالي) قایل و، دده دوه کتابونه ابو ریحان بېروني په عربي ژباړلي نوله همدې امله په پوهانو کې د ده شهرت او ثقه والی تل د باور وړو.

د همدې تاریخي سند له مخې د "افغان" کلمه په هندیانو کې لږ تر لږه ۱۴۰۰ کاله وړاندې هم مشهوره وه او هندي لیکوالو یاده کړې ده.

تر اسلام وړاندې پېړيو کې مو دافغان نوم په دوو پخوانيو سندونو لويديځ ته په پارس او ختيځ ته په هندوکې در ونبود او موږ پوهېږو چې همدا وخت بودايي دين د افغانستان په ختيځ او شمال کې دودۍ او لوی بودايي بود تونونه د افغاني هېواد په بېلا بېلو ښارونو لکه بلخ، کندز، کاپيسا ، هډې، لغمان او له غزني نه تر کندهاره پورې ودان وو او څرنګه چې د چين خلك هم د دين له مخې بودايان وو نو ځکه به د چين بودايي زيارت کوونکي تل د زيارت او تبرك له پاره دې هېواد ته تلل راتلل. له دې زيارت کوونکو څخه يو هم "هيون تسنګ" دی چې د اوومې پېړۍ په لومړۍ نيمايي کې د اسلام له ظهور سره سم خو د عربو په لاس د افغانستان تر فتح کېدو وړاندې دې هېواد ته راغلی دی، دی د ۶۲۹ کال د اګست په لومړۍ نېټه له "ليانګ چو" نه را روان شو او د

۶۳۰ع د مارچ په ۵ "سمرقند" او په ۲۰ نېټه د افغانستان "خلم" ته راورسېد ، دی د اپرېل په ۲۰ په "بلخ" او داپرېل په ۳۰ په بامیانو کې و او دهندوکش په له واورو ډك غره د می په لسمه نېټه "کاپیسا" ته راورسېد ، د اوړي تر پایه پورې د کابل شاهانو په دې پایتخت کې پاتې شو او بیا یې خپل سفر ته داسې دوام ورکړ:

د اګست په ۱۵ لغمان ته راغی او درې ورځې یې هلته تېرې کړې، د اګست په ۲۰ ننګرهار ته راغی، دوې میاشتې هلته پاتې شو، د نومبر له لومړۍ نېټې نه د ګندهارا په نورو برخو او ددسمبر له لومړۍ نېټې نه د پېښور په سیمو کې و، د ۶۳۱ع د جنوري په لومړۍ نېټه د سند د سیند په کښتو کې په سفر روان شو او د اپرېل په ۱۰ نېټه ټکسیلا ته ورسېد ، دی ۱۲ کاله په هندکې پاتې شو او په

بېرته راستنېدو کې د ۶۴۳ع کال د دسمبر په ۱۵ نېټه بېرته ټکسيلا ته راغی او بيايې د افغانستان لاندني ښارونه وليدل:

د دسمبر په ۲۵ نېټه د فيل په سورلۍ له اباسين نه - راواوښت، د ۶۴۴ع کال د مارچ په ۱۵ نېټه لغمان ته راورسېد او دهغه ځای له پاچا سره يوه مياشت پاتې شو، د جون په ۱۵ "فه- له - نه" يعنې "بنو" ته ورسېد، د جون په ۲۰ " او - پو - کين" او د جون په ۲۵ " تساو - کيو - تو" (غزني) ته ولاړ، د جولای په لومړۍ نېټه اور تسپانه (کابل) ، د جولای په ۵ کاپيسا ، د جولای په ۲۰ اندراب، د اګست په لومړۍ نېټه توخار(تخار) د ستمبر په ۸ بدخشان او د دسمبر په ۱۲ پامير ته ورسېد چې بيا له هغه ځايه يار کند او ختن ته تېر شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هیون تسنګ سفر نامه د "سي - یو - کي" یعنې د لویدیځو هیوادو خاطرې نومېږي او له چینې ژبې نه په انګلیسي ژباړل شوې او په وارو - وارو خپره شوې ده چې د دې ارښتناك کتاب یوه برخه دهغه وخت د افغانستان د خاورې او خلکو دجغرافیایي ، دیني، سیاسي او اجتماعي اوضاعو په باب ډېر په زړه پورې مواد لري او کله چې دی له هند نه په راغبرګېدو کښې "فه - له - نه" یعنې د"بنو" ولایت ته رسېږي، د "سي- یو - کي" د لومړي ټوك په ۲۶۵ مخ کې (انګلیسي ژباړه) د "او- پو- کین" (o-po-kien) په نامه یوه سیمه د بنون او غزني تر مینځ د بنو شمال لویدیځ او دغزني جنون ختیځ ته، یادوي چې تر ده وړاندې یوه بل چیني زایرفاهیان هغه د "لو -یې" یعنې "روه"(Roh) په نامه یاده کړې وه (۲) خېړونکو خصوصا جنرال

(c) ketabton.com: The Digital Library



کننګهم د هند د لرغوني جغرافيې ليکوال دا "او – پو – کين" د "اوه ګان" (افغان) له کلمې سره تطبيق کوي او وايي چې هيون تسنګ د دې خلکو ژبه هندي نه بولي خو دده په وينا يې د هند له ژبو سره لږ ورته والی درلود نو له دې نه به مطلب پښتو وي او څرنګه چې چيني "او – پو – کين" همغه د لرغوني "ا- وه – ګان" هجاوې (څپې) لري نو بويه په باور ووايو چې مراد همدا افغان دي چې اوس هم د سنده او غزني تر مينځ د پکتيا – پکتيکا او غزني ولايتونه د افغاني اصيلو او لرغونو قبيلو استوګنځي دي، دی حتما د همدې کورمې او ګوملې په غرونو چې د "او- پو – کين" يعني "افغان" استوګنځی و او په همدې نامه يادېده. د پکتيا ولايت ته ور اوښتی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر اسلام وړاندې د افغان د نامه په باب همدا
درې لرغونې ساساني، هندي او چيني سندونه لرو
او تر دې وروسته په اسلامي دوره کې د دې نامه ياد
په درې او عربي کتابونو کې په مکرر ډول راغلې چې
ډېر زوړ ياد يې په "حدودالعالم" کې دى چې په
٣٧٢هـ (٩٨٢ع) کال د جوزجان د ال فريغون له
کورنۍ او يا مربوطينو څخه کوم، ليکلې دي. په
دې کتاب کې د عبدالجبار عتبي په " تاريخ يميني"
کې "افغان" د سبکتګين او د ده د کورنۍ په عصر
کې په وارو- وارو ياد کړي ان چي ابن اثير په الکامل
کې هغه د ابغان په زړه املاهم ليکې، ترې راوروسته
مورخانو لکه فخر مدبر په اداب الحرب والشجاعه،
قاضي منهاج سراج جوزجاني په طبقات ناصري،
حمدالله مستوفي په تاريخ ګزيده او محمد قاسم

فرشته او نوروهم "افغان" او "اوغاني" قبايل په وارو- وارو ياد کړي دي.

همدا راز د افغانستان د کلمې په باب هم ويلای شو چې دا داسې نوی نوم نه دی چې داحمدشاه ابدالي په وخت کې دې جوړ شوی وي، بلکه تر ده په پېړيو وړاندې يعنې (۷۰۰) کاله مخکې هم موجود او دا ستعمال وړ و او مور د سيفي هروي په تاريخ هرات کې چې د ۷۲۱هـ (۱۳۲۱ع) کال شا او خوا تاليف شوي وينو چې همدا د افغانستان ختيځې سيمې يې د سند تر څنډو پورې د "افغانستان " په نامه بللې اوله دې نه څرګندېږي کله چې هرات د "ال کرت" پايتخت و او هيواد د غزنويانو او غوريانو د سياسي وحدت له دورو نه د چنګيزيانو د تېريو له امله د تجزيې او ورانۍ په لور روان و، د افغانستان نوم هغه وخت هم

موجود و خو دومره پراختیا یې نه درلوده لکه د احمدشاه بابا په وخت کې یې چې تر لاسه کړه.

د هرات د تیموریانو په وخت کې مولانا کمال الدین عبدالرزاق سمرقندي هروي چې په ۸۱۶هـ (۱۴۱۳ع) کال په هرات کې زېږېدلی او دهرات د دربار د پوهانو، مورخانو قضا او سیاست له کسانو څخه و خپل د "مطلع سعدین او مجمع بحرین" تاریخ په ۸۷۵ هـ (۱۴۷۰ع) کال ولیکه، دی هم په خپل کتاب کې افغانستان په همهغه جغرافیایي وسعت چې سیفي پېژانده په وارو - وارو یادوي چې د هرات د تیموریانو د لوی هېواد خراسان یوه برخه و او معین الدین اسفزاري هم په روضات الجنات کې افغانستان په وارو - وارو یاد کړی دی.

کله چې بابر په ۹۳۲ هـ (۱۵۲۶ع) کال له افغانستان نه د هند په لور ولاړ او په ډیلي کې یې د

هند د مغولو امپراتوري جوړه کړه نو دال بابر په اکثرو تاریخونو کې وینو چې همدا د افغانستان نوم په همهغه واره جغرافیایي مفهوم موجود او مستعمل دی او د دې سیمې خلك تل د هند د تیموریانو او دایران د صفویانو د یرغلګرو امپراتوریو په مقابل کې د خپل ژوند او ازادۍ د ساتلو په جګړه بوخت دي - څو چې په همدې افغانستان کې ددوو پېړیو د اوږده مقاومت او مقابلې په نتیجه کې د میرویس او احمدشاه د مېړنیو قیامونو په وسیله یو ځل بیا ددې خاورې په سیاسي وحدت، بیا احیاء او د لوی افغانستان په جوړولو بریالي شول او دادی موږ اوس د افغان یو زر اووه سوه کلن او د افغانستان اووه سوه کلن ویاړمن نومونه د خپل ملي وحدت او تاریخي سوابقو د ویاړ وړ پیل او مبداء په توګه پېژنو(۳)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پایلیکونه:

(۱) سر اولف کېرو (پټانان) د ډبرلیك دا دري کلمې د یوناني متن له مخې د پروفیسر سپرنګ لنګ په حواله (د امریکا سیامي مجله ۱۹۴۰) داسې لیکلي دي:

" ګوندیفر- ابغان -رسمون"(Goundifer Abgan Rismaud)

خو فارسي ترجمه یې چې د سپرنګ لنګ له انګلیسي متن څخه شوې (د لرغون پېژندنې رپوټونه، ۴ ټوك، د شېراز چاپ) دا دري کلمې "وینده فرن - ابه ګان - رزمي ید"دي. په لومړې کلمه کې چې د جنګ د دې سردار نوم دی "وینده فرن" پهلوي او "ګوندیفر" یوناني دی. په دوهمه کلمه کې ابه ګان د یوناني د "ابګان" په مقابل کې راغي خو دریمه کلمه په غالب ګومان "رزمه + پت = رزمه ود = رزم پت" وه چې پت = بد = بذ= د = بېد د یوې کلمې اصل بېلا بېلې املاګانې دي او د ویدي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سنسکریت اوستازاړه "پتي" ته (چې د خاوند او بادار په معنی دی) رسېږي.

د "رزمي يد" املا د يوناني د "رزم + ود" په مقابل کې هم نموني لري، لکه طبري (۱ ټوك /۶۸۳ مخ) ليکي: د کياني يشتاسپ په وخت کې اووه لوی سرداران وو چې يو له هغو نه "مهکابيذ" د ګرګان په کليو کې و ، څرنګه چې د رزمه کلمه په زړه پارسي کې (Razma) او په اوستا کې (Razma) د جنګ د صف په معنی وه او رجه د سنسکريت له (Raji) سره سم (رده = صف) تر اوسه هم په پښتو کې له همدې ريښې نه ژوندۍ کلمه ده. نورسمه + ود يا رزمي + يد يا رزمه پت = رزم بد ، د جنګ سالار او سردار ته وايه شي او د رزمي يد املا به هم د طبري پر مهکابيذ باندې د قياس له مخې سمه وي.

(۲) د ظهير الدين بابر د کورنۍ د واکمنۍ په دوره کې تر ۹۰۰ هـ (۱۴۹۴ع) کال وروسته اکثرو تاريخ ليکونکو د افغانستان همدا ختيځه برخه تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسن ابدال پوري " روه" بللي ده چې محمد قاسم فرشته يې اوړده له هراته تر حسن ابدال پورې بولي او په پښتو ادبياتو کې هم د انوم ډېر راغلی دی.

په حقيقت کې دا نوم له ډېرې زړې زمانې څخه دود دی او په هندوستان کې يې افغانانو ته روهيله او د دوی استوګنځي ته روهيلکنډ وايه چې لا تر اوسه هم په هند کې مستعمل دی. د ملتان د جنوبي سيمې په پنجابي او ډېرو په بلوڅي لهجو کې روه د غره(کوه) په معنی د سليمان د غرونو له سلسلو څخه عبارت دی (پټانان د سراولف کېرو تاليف د لندن چاپ ، ۴۳۹مخ) .

(۳) دا کلونه ما د اوسنيو تر لاسه شويو اسنادو له مخې ليکلي چې حتما د افغان نوم تر دې هم زوړ دی.

PROPERTY OF ARIC Established 1989
PROPERTY ACKU
11633

(c) ketabton.com: The Digital Library

# Afghan
# And
# Afghanistan

Author

Allama A.H. habibi

Published by

Sapi's Center for Pushto Research and Development

Peshawar..............................................2001

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**